شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (٩٧١)سال هژدهم ،شمارهٔ (٥٧) پنجشنبه (١٩)اسد ١٣٧٤هـ ش (١٤) ربیع الاول ١٤١٥هـ ق (١٠) اگست ١٩٩٥م

قیمت (٢٠٠) افغانی (٢ روپیه)

(١٢٠٠٠٠٠) مهاجرمقیم ایران به وطن بازگشته اند

تهران - ١٧ اسد

تاکنون بیش از یك ملیون ودوصد هزار مهاجر افغان بصورت داوطلبانه ازایران به کشوربازگشته اند .

گزارش خبرگزاري ایران به نقل از وزارت داخله این کشور حاکیست :

بیش از یك ملیون ودوصد هزار مهاجرافغان وارد افغانستان شد ونزدیك به یك ملیون وپنجصد وبیست هزار نفر دیگرازآنان درایران زندگي میکنند.

یك نطاق وزارت داخله ایران تبلیغات رسانه هاي گروهي غرب مبني بر بازگشت اجباري مهاجرین مقیم ایران به وطن را مردود ونادرست خوانده گفت : بازگشت آنان کاملا داوطلبانه بوده است .

وي با اشاره به اینکه درحال حاضرروزانه بین هزار تاهزارو پنجصد مهاجر افغان باکلیه امکانات لازم به منظور بازسازي کشور شان ایران را ترك میکنند گفت : کمك هاي سازمان ملل درمقایسه باتعداد پناهندگان مقیم ایران ناکافي بوده ونیاز مندي هاي پناهندگان را تکافو نمیکند.

چند باب منزل خراب وتعدادي شهید ومجروح شدند

درتاریکي شب ،طیارات ادارهٔ کابل ساحات طالبان رادر «دل آرام »بمبارد نمودند

فراه - ١٧ اسد.

ولسوالي دل آرام ولایت فراه راطیارات جنگي اداره کابل بمباران کردند .

گزارش رسیده به روزنامه شهادت از ولایت فراه حاکیست که چاربجه صبح روز چهارشنبه طیارات جنگي اداره کابل مواضع گروه طالبان را درمناطق دل آرام شدیداً بمباري نمودند.

گرچه ازتلفات وخسارات وارده این بمباري تاکنون خبرموثق دردست نیست اما گفته میشود ازاثر تاریکي شب چندین بم برمنازل مسکوني اثابت نموده وتعدادي از اهالي بي دفاع شهید ویا زخمي شده اند. وتلفاتي هم به مواشي رسیده است.

راپور مي افزاید که ازاثر این بمباران چند باب منزل مسکوني نیز باخاك یکسان شده است .

بعدازچهارماه آرامش نسبي :

کابل باردیگرراکت باران شد

کابل - ١٧ اسد :

مناطق مسکوني غرب شهرکابل هدف حملات شدید راکتي قرارگرفته تلفات وخسارات زیاد جاني ومالي برجاي گذاشت.

گزارش هاي رسیده از کابل حاکیست: حوالي ساعت یك بجه شب گذشته منطقه مسکوني کارته سه واقع شهرکابل مورد آتشباري راکت قرارگرفته (٢١) شهید و(٢٤) مجروح برجاي گذاشت و (١٩) باب منزل مسکوني را ویران ساخت . گفته میشود این راکت باري ازسمت مناطق تحت کنترول طالبان صورت گرفته اما اداره کابل میگوید گروه طالبان با استفاده ازآتش بس غیررسمي ،یك دستگاه BM٢١ را شب

ص(٤)

انتقاد شدید روسیه ازطالبان :

طالبان حق ندارند هواپیماهای ترانسپورتی رامزاحمت نمایند

کابل - ١٧ اسد.

اداره کابل اعتراف نمود که از البانیا مهمات نظامی را به کابل انتقال میتمود.

قرارگزارشها یك فروند ازاین طیاره ها که مهمات را از البانیا به کابل انتقال میداد از طرف گروه طالبان درمیدان هوایی قندهار پائین شد.

طالبان طیاره وده تن ازعمله آنرا درنزد خود دارند تا گروگانان آنها که نزد اداره کابل است رها گردند.

گروه طالبان از چندی به اینطرف اخطار داده بودند که افغانان باید ازطیارات ترانسپورتی اداره کابل استفاده ننمایند به خاطریکه اداره کابل قانونی نبوده وعایدات طیارات ترانسپورتی به طورغیر قانونی به جیب اداره کابل می افتد . آنها ادعا دارند که با پائین نمودن طیاره ترانسپورتی

ص(٤)

بیانیه مشترك وزیرخارجه پاکستان ومنسوبین اداره کابل منتشرشد

تهران ١٨ اسد.

وزرای خارجه پاکستان واداره کابل طی صدور بیانیه مشترکی که درکابل منتشر شد برحل قضایای سیاسی بین دوکشور تاکید ورزیدند .

آقای آصف احمد علی وزیر امور خارجه پاکستان طی دیدار بالقرایی وزیر خارجه اداره کابل موافقت کردند که حل سیاسی مبتنی بر اراده وخواست مردم باشد

این بیانیه که حاوی ١٥ فقره می باشد،شامل تشکیل کمیسیون مشترك ، رفع مشکلات وسوی تفاهمات بین دوکشور وتداوم تماس ها بایکدیگراست.

دراین بیانیه آمده که رهبران افغانستان به حکومت پاکستان اطمینان داده اند که خواهان افغانستان مستقل باحاکمیت ملی وعدم دخالت درامور یکدیگر می باشد.

وزارت خارجه اداره کابل ، تصمیم خود را ازطریق مسالمت آمیز درحل قضیه افغانستان اعلام نموده است.

هم چنان رادیو تهران ضمن تبصره ای درمورد موافقت این بیانیه می گوید که پاکستان واداره کابل باامضای موافقت نامه مذکور اهدافی را دنبال می کنند که منافع

ص(٣)

عبدالمنان نیازي دیوي مرکي په ترڅ کي :

دربانی تفربایدله افغانستان څخه تول شي

• درابنکته کړل شوی الوتکی اودهغی مهمات ضبط کړل شول

کوئټه - دزمري ١٧ مه :

په افغانستان کي دروسي اوهندمستقیمي نظامي مداخلي اوس هم لکه دپخوا په شان رواني دي .

داخبري دطالبانو ویاند عبدالمنان نیازي دیوي مرکي په ترڅ کري. هغه وویل : موږ پخوانه ویلي ؤ چي هند اوروس په افغانستان کي مستقیمي مداخلي کوي خوچاداخبره نه منله اوس دطالبانولخوابنکته کري شوي الوتکي تولو نړیوالوته ځرگنده کړه چي دمداخلي جریان لري اولکه چي دنجیب، تره کي ، حفیظ الله امین اوببرك تر چي نظامي ملاترکاو،دربانې نه هم همغه شان حمایه اوملاترکوي .

هغه له بي بي سي سره دمرکي په ترڅ کي زیاته کړه : چي دربانې تفربايد

(٤)مخ

برادرمحمدنذیر"بشارت" به‌حیث سردبیرروزنامه شهادت مقررگردید

پشاور - ١٨ اسد :

به اساس پیشنهاد ریاست ارشاد وفرهنگ ومنظوري مقام امارت حزب اسلامي، برادرمحمدنذیر « بشارت » مسابق مسئول رادیوتلویزیون پیام آزادي به حیث سردبیرروزنامه شهادت مقررگردیده است .

##

په نصرت مینه کی دمیلاد النبي (ص) په مناسبت غونډی ته دوینا په ترڅ کي :

مونږ دبریالیتوب ددعوی سره سره په هیواد کی داسلامی جهاد اهدافو ته نه یورسیدلی

دا کترجان محمد "همکار"

حضرت رسول اکرم (ص) نه یوازی تربعثت وروسته بلکه تربعثت مخکی یی هم دپام وړروښانه کارنامی ترسره کړی .

دریم مخ

قاضی محمود الحسن

یك حمله تفنگداران اداره کابل درولسوالی اندراب به عقب زده شد :

دره "قلات" دربین اندراب وخنجان به تصرف نیروهای شورای عالی هماهنگی درآمد

خنجان ١٧ اسد.

نیروهای شورای عالی هم آهنگی به موفقیت های جدیدی درسالنگ و ولسوالی اندراب ولایت بغلان دست یافته اند.

یك مقام مسئول حوزه النصر با تذکر این مطلب گفت ، نیروهای شورای عالی هم آهنگی شب گذشته سه سنگر وقرار گاه مهم ومستحکم افراد مسلح اداره کابل را در گولایی شاهراه سالنگ به تصرف خویش درآوردند .

منبع درتماس مخابروی افزود ، فعلاً هم نبرد ادامه دارد... وافراد مسلح اداره کابل با روحیه ومورال ضعف واز دست رفته پا به گریز نهاده ونیروهای شورای عالی هم آهنگی به پیشروی شان ادامه می دهند.

طبق یك خبر دیگردرمنطقه باجگاه ولسوالی اندراب ولایت بغلان یك حمله تفنگداران اداره کابل دفع شده ونیروهای شورای عالی هم آهنگی منطقه قلات راکه ولسوالی اندراب رابه خنجان وصل می نماید به تصرف خویش در آورده اند.

هم چنان خبرمنتشره رادیو کابل که شب گذشته پخش شد ودرآن ازشهادت غلام سخی یکتن از قوماندانان حزب اسلامی در اندراب تذکر رفته بود، توسط یك منبع خبر می افزاید به درگیری درولسوالی اندراب ادامه داشته وان شا الله عنقریب تمام منطقه ازوجود شرافگنان شورای نظار تصفیه وپاکسازی خواهد شد.

ص(٤)

طالبان گفته اند که تازمان رهایی اسرای شان طیاره رارها نخواهند کرد :

شرکت هوایی چارترطالبان را به هواپیما ربایی متهم نمود

قندهار ١٧ اسد.

یك فروند طیاره باربرنوع الیشن (٧٦) ساخت شوروی سابق که پنجشنبه گذشته توسط طیاره جنگی گروه طالبان در قندهار فرود آورده شد تا کنون با ده تن عمله آن نزد طالبان میباشند.

قرار گزارشها این طیاره که از تیرانا پایتخت البانیا پرواز نموده وعازم کابل بود درقندهار به خاطری متوقف گردیده که مهمات نظامی باربود.

یك نطاق خط هوایی چارتر این طیاره میگوید: طیاره با هفت عمله روسی آن حامل مهمات برای اداره کابل بود.

این نطاق که خود را سرگی معرفی نموده میگوید طیاره تمام اسناد لازمه رادارد واین اقدام طالبان طیاره ربائی میباشد.

وی میگوید مذاکرات جهت رهایی طیاره وعمله آن جاریست وقرار است مدیر شرکت هوایی چار تر نیز که در امارات متحده عربی میباشد وارد کابل شود وبعداً جهت رهایی طیاره وعمله آن شخصاً به قندهاربرود.

سرگی گفت یکتن از انجنیران عمله طیاره دیروز به یك حمله قلبی مواجه شد که یك داکتر صلیب احمر جهت تداوی آن رفته بود ولی طالبان از رهایی وی خودداری کردند وگفته اند تا زمانیکه گروگانا نکه نزد اداره کابل میباشد رها نگردند طیاره وعمله آن رها نخواهد شد.

جنرال دوستم او اصف احمدعلی په مزارشریف کی سره وکتل :

دبگرام په هوایی دگرکی هندی پیلوتان او تخنیک گران دندی ترسره کوی

جنرال دوستم

پاکستان دافغانستان په کورنیو چاروکی لاس وهنه نه کوی

(٤)مخ

سردار اصف احمدعلی

سرمقاله

بنام خداوندی که بی اندازه مهربان ونهایت بارحم است

تبلیغات همه جانبه علیه مجاهدین به سود جریان حاکم تمام شده است

طالبان باخود به محاسبه بنشینند

راه افتیدن تحریکي بنام «طالبان » از یکسال به اینسو، بطورقابل ملاحظه اي محل توجه ارباب خبربوده است . شعارهاي جذباتي ودل گرم کننده طالبان درشرایطي که مردم ازماشین جنگي سه ساله خسته شده بودند، متا دي جالبي بحساب میرفت، درآغازاشتباه وبرداشت مردم ازشعارهاي طالبان این بودکه گویااین تحریك نمیخواهد مبدل بیك ماشین جنگي دوامدارشود وبلکه باآوردن همکاري وهیجان درجبهات تنظیم ها کار جنگ قدرت رایکطرفه میکند وبگفته خودشان حکومت عدل اسلامي رابرپا مینماید .

جبهه گیري وانتقادطالبان ازتنظیم هاي جهادي ، بیشتر برین نکته متمرکزبودکه آنهااین سازمانهارا « تشکیلات جنگي » میدانستند وحتي حمل سلاح راجرم وانمودساخته به جمع آوري سلاح نسبت به همه مسایل دیگر ترکیزمیمودند .

ولي متأسفانه شعارهاي جذباتي ومقدماتي طالبان دراستکاك وبرخورد باقضایا وواقعیت ها ازگرمي وکشش خودافتاد .

برخورد واقعیت هاوملموس شدن جریانات عملي ، طالبان را دراندك مدت ماشین جنگي وتنظیم نظامي وسیاسي ساخت ا طالبان متوجه این نکته شدند که مشکل اصلي مشکل تنظیمي وجنگ تنظیمي نبوده بلکه دست یك جانبه اجانب است که ماشین جنگ راگرم نگهمیدارد وبراي سرپاماندن یك جریان وابسته ، ومفلوج ساختن نیروهاوهسته هاي مردمي وجهادي ، جنگ داخلي را ادامه میدهد. درین زمان بود که طالبان تازه متوجه گردیدند که تبلیغات همه جانبه آنهاعلیه مجاهدین وجمع آوري سلاح تاچه حد بسود جریان حاکم ووابسته تمام شده است .

طالبان حالا ودرمجموع این حقیقت رالمس میکنندکه جنگ سه ساله جنگ قدرت نه بلکه جنگ دفاع ومقاومت دربرابریك فشار سرکوبگرانه انحصاري وخارجي بوده است ، امابراي طالبان که باگرمي تمام وبي توجه به واقعیت هاي ملموس علیه همه شعارداده بسیارمشکل مي نمایدکه وارد کانال حقیقت شوند وازسردادن شعارهاي دوگانه که دربسیارمواقع مصالح جبهه دفاع راتخریش میکند، بپرهیزند .

اینجاست که بعضي حلقه هادرمیان طالبان بزعم اینکه به تحریك شان خدمت میکنند دچاراشتباه میشوند وگاهي بازهم به همان شعارهاي دوگانه لب ترنموده وواقعیت هارانادیده میگیرند . ولي این اطمینان وجود دارد که بالاخره وبزودي عناصر متعهد وعناصر واقعیت گرا درمیان طالبان این دوگانگي شعارهارا بزودي پایان بدهند وباتمام توان وامکان لازم طرف جبهه حق وطرف جبهه دفاع رابگیرند .

درصورت مساعد شدن اوضاع :

پاکستان دراعمار مجدد افغانستان سهم میگیرد

جلال آباد - ١٧ اسد .

سردار آصف احمد علی وزیر امور خارجه پاکستان در جلال آباد با حاجی عبدالقدیر والی آن ولایت واعضای شورای جهادی ولایات مشرقی دیداروگفتگو نمود.

وی در پایان سفر خویش اعلامیه یی به نشر سپرده که در آن آمده است ، بحران افغانستان بزودی طبق آرزومندی افغانها ورهبران آنها حل وفصل خواهد شد.

اعلامیه می افزاید سردار آصف علی درین سفر خویش با ربانی ،الفرایی ، مسعود ، احمدشاه احمدزی ،محمد علی جاوید ، بارکزی وسیاف ملاقات ومذاکره نمود. در اعلامیه گفته شده پاکستان حاضر است دراعمار مجدد افغانستان سهم گیرد ولی به شرط انکه اوضاع وشرایط مساعد شود وهمچنان جهت تشکیل یك کمیسیون مشترك جهت همکاری بین دوکشور موافقه نموده است .

دراعلامیه گفته شده است که آصف علی بالفرایی وزیر خارجه اداره کابل روی موافقتنامه ترکمنستان ، پاکستان وافغانستان که دوسال قبل دراسلام آباد پاکستان امضا شده بود مذاکره نمودند .

اعلامیه می افزاید اداره کابل همچنان موافقت نموده که درجلسه عشق آباد نیز شرکت نماید که در آن جلسه روی موضوع تمدید پایپ لاین گاز طبعی ونفت میان ترکمنستان وپاکستان ازطریق افغانستان بحث خواهد کرد.

ص(٤)

حاجی عبدالقدیر والی ننگرهار:

استاد ربانی نمیتواند ازطریق زور وجنگ افروزی حکومت نماید

جلال آباد - ١٧ اسد :

الحاج عبدالقدیر والي ولایت ننگرهار ورئیس شوراي جهادي ولایات شرقي کشور دیروزطي سخنراني درسیمینارتحت نام (نهضت اسلامي) که درشهر جلال آباد دایرشده بود گفت : هرزماني که باخداوند (ج) تعهد سپردیم که درافغانستان نظام اسلامي را قایم مي نمائیم وهمگي دراین راستامخلصانه سعي ورزیم ، بحران کنوني درکشورخاتمه مي یابد .

الحاج عبدالقدیر ابرازداشت:باید بامسئولین حوادث سه سال گذشته حساب صورت بگیرد واگرربانی دراین فکر باشدکه ازطریق توسل بزور وجنگ افروزي حکومت خواهدکرد، امکان ندارد .

رئیس شوراي جهادي ولایات شرقي کشور ازتلاش هاي هیئات هاي داخلي وخارجي که براي حکومت اسلامي کمربسته اند اظهارقدرداني نموده وافزوده که ما بامساعي اینکه خلاف اسلام وملت باشد، شدیداً مخالفت داریم .

نامبرده افزود ، جنگ علیه هیچ یك ازاقشارملت اعم ازپشتون ،تاجك ، هزاره وازبك جوازندارد.

الحاج عبدالقدیر دراخیراز فعالیت هاي موسسات خیریه امتنان نموده وهرنوع همکاري خود را بااین موسسات ابرازداشت

رهبران مخالف حکومت تاجکستان به کابل می آیند

مسکو - ١٧ اسد .

رهبران مخالف دولت تاجکستان موافقه نمودند که طی چند روز آینده وارد کابل پایتخت افغانستان شوند.

قرار گزارش خبرگذاری ایتارتاس رانروف پیریزیایون نماینده سازمان ملل در امور تاجکستان میگوید توانسته است .

ص(٤)

سخن روز

عذر بدتر از گناه

مبصر

بالاخره دکابل ائتلافي اداري په دي خبره اعتراف وکرچي ددرنو اوسپکووسلو درانيولوورسته ئي دالبانيادشرکت يوه الوتکه کابل ته ددغه موادو دانتقال په خاطرکرايه کري وه . چي کابل ته درسيدو څخه دمخه په قندهارکي دطالبانودغورځنگ دهوايي ځواک دجنگي الوتکي په واسطه په زوركښيناستوته مجبوره شويده . دكابل ائتلافي اداره ادعاکوي چي ټول نظامي مهمات ئي دالبانياڅخه رانيولي اودهماغه ځاي جوړشوي موااددي .

دااعتراف په داسي وخت کي کيږي چي دروسانو يوعالي رتبه هيئت همدا اوس کابل ته رارسيدلي او غواړي چي ددغه طياري، دهغي دعملي اوپيلوټانواوهمداراز دکارگرو دخوشي کولو له پاره خبري اترې وکري . دغه روسي هيئت دطالبانو دغورځنگ دغه اقدام بين المللي تروريزم گڼلي اوله طالبانو نه ئي دبين المللي تروروستانو لقب ورکري اودنړي څخه ئي غوښتي دي چي دطالبانو دغه تروريستي اقدام محکوم کړي .

دالبانيا دهوائي کرښي دغه الوتکه چي دتيري پنجشنبي په ورځ (داسدپه ۱۲ مه)په داسي حال کي چي دقندهار په سرئي پروازکاوه په زور راښکته کړل شوي اودهماغه ورځي راپديخوا دطالبانوغورځنگ دادعاوکره چي روسي الوتکه کي دهغه جوړشوي نظامي مواد چي دکابل ائتلافي حکومت ته وړل کيده ددوي په واسطه نيول شوي، خوپه اسلام آبادکي دجمعيت دپلومات انجنير عبدالرحيم په ډگه خوله دا ادعامسترد کره اوويي ويل چي نه خودطالبانو سره داډول وسايل موجوددي چي طياري راښکته ته مجبوري کړي اونه داډول الوتکه افغانستان ته راغلي، داانجنير رحيم د... ترديد نه وروسته دهرات واکمن اسماعيل خان يوقدم نورهم مخته ... ت اوهغه خبرنگارانوته ئي چي په قندهارکي ئي پخپله ددغي الوتکي ... شاهده کري وه وويل چي طالبان غواړي دخپل ځان له پاره دپروپاگنډيوه ... ره پيداکري ، حال داچي نه خوداسي الوتکه قندهارکي کښېنول شوي اونه دکابل ائتلافي اداره نظامي موادوته اړتيا لري اوکه چيري اړتياولري هم، نومونږ (دهرات واکمنان) دومره نظامي ديپوگان په اختيارکي لرو چي دهغوي ستونزي پري حل کولاي شو.

لوستونکوته به يادوي چي څه موده پخوا دبي بي سي خبرنگارپيټرگرسکي چي په تصادفي توگه دبگرام په هوائي نظامي ډگرکي يونه،بلکه پنځه سترستر ترانسپورتي جهازونه ډك وليدل چي کښيناستل ، خودپيټرپه دغه راپوردكابل اداري هيڅ ډول عکس العمل ونه ښود اوخبر ه ئي پټه پريښوده . که څه هم پيټرگرسکي په خپل هغه راپورکي ويلي و چي دغه دوسلو نه ډك جهازونه دافغانستان دغرب نه بگرام ته راغلي وو خوگمان داوچي داالوتکي به دروسانوله اړخه دترکمنستان له لاري کابل ته رارسيدلي وي .

خودالبانيا دکرښي (ايلوشن ۷٦) الوتکي کښېنولو اودطالبانوځوا دهغي اعـلان دکابل داداري اودکمـونستو هيوادونوترمنځ پټي اړيکي چي دافغان مجاهدولس داسلامي عقيدي اوفکرپه خلاف سره ديوه سازش په کړيو کي رانغښتي پوره ئي په ډاگه کړي ، اودا داسي په ډاگه شول چي دکابل مسئولينو اودهغوي درواغجنـو ديپلوماتانو او قومانداناتو هڅه وکره چي خپل لمن ښکته کړي خوبالاخره داحقيقت افغان ولس ته په داسي وخت کي دلمريه څير روښانه شوچي دپاکستان دبهرنيوچارو وزير سردار آصف علي ديوشمير خبرنگارانو سره يوځاي کابل ته دکابل دائتلافيونو سره ددغه سپڅالي په خاطرچي پاکستان دافغانستان په کورنيو چاروکي لاس نه وهي تللي و .

جناب سردارآصف علي ته چي دکابل نه اخوائي قندهارته هم لنډ سفر درلود هغه الوتکه چي دالبانيي څخه ئي هندي نظامي کومکونه دکابل داداري گوداگيانو ته رسول، ورونښودل شوه . او سردارآصف هم په خپل نوبت سره په مزارشريف کي په يوه مطبوعاتي کانفرانس کي وويل چي مونږ دافغانستان په کورنيو چاروکي لاس نه وهو، اونه مودنجيب دړژيم دسقوط نه وروسته دکوم جهادي تنظيم سره څه نظامي تعاون کري بلکه دانورخلك دي چي دافغانستان په کورنيو چاروکي لاس وهنه کوي چي بهترين ثبوت ئي په قندهارکي دالبانيا وايلوشن ۷٦ » ډوله الوتکه ده چي نظامي موادئي کابل ته انتقالول .

دکابل دمجاهدنما لاس پوڅي اداري سره دروسانو تعاون اوپيښه لکه دپخوانيو کمونستورژيمونو په څيردوام لري،بواځني توپيرداوي چي پخوامستقيماً اونيغ په نيغه تعاونونه کيدل خواوس ئي دهند، البانيي، ترکمنستان او ... په واسطه هـسي دهرات له لاري دکابل دتحميلي غاصبي اداري دقدرت دبقا په خاطر کوي. څکه بواځي دکابل همدغه ائتلافي اداره، چي اصل واکمنان ئي دپخواني رژيم کمونست بقايادي، کولاي شي په افغانستان کي دافغان مجاهدولس په حقه حقوقو دقصابي تيره چاره را کاږي اودولس په ستونوباندي دماتي خوړلي کمونيزم ديرچي په زور دلوړولو داړه ماريو اوچوروچپاول له پاره خپله دغه کرغيړنه دوره نوره هم اوږده کړي .

دکابل اداري دمسئولينو داادعاچي گويا دوي دالبانيا دکمونست رژيم سره ديوه ازاد هيواد په څيرنظامي موادو داخستلوقراردادونه کړي، ډيره بي ځايه اوله شرمه ډکه ادعا ده . څکه چي نه خوپه کابل کي دولس په خوښه حکومت شته اونه دکابل دړژيم تسلط ، نه يواځي په ټورهيوادو بلکه په خپله په کابل کي هم نه شته ، په بين المللي توگه يو ايزوليت اوپه انزواکي پرته اداره ده چي غواړي دافغانستان مظلوم ملت چي پوره ١٤ کاله ئي دروسانودسره استعمار په مقابل کي دجنگ په اورکي سوځيدلي اودري کاله اوس دربانی - مسعود دسکتاريستي ،ژبني اوقومي تعصب په لمبوکي سوځي دهمدي روسي وسلو په اخستلو نورهم دکړاوونو اومصيبتونوپه اورکي وسوځوي . اودادروسانوهغه ارمان دي چي دخپلو ماتي خوړونکو قوځيانو دغچ اخستوله پاره ئي دافغان ولس په هلکه لري . هغوي ددغه ارمان دترسره کيدوله پاره ښې مهري پيداکري ، هغه مهري چي گري په گري او قدم په قدم زموږقوم په فاجعوارو دکابل اداره دخپل ولس دنابودي له پاره ولي دالبانيه ،مسکواوډهلي په لاردنظامي موادو درانيولو او انبارولو هڅه کوي اوبياداسي عذرتراشي چي هغه دگناه نه بدتردي . ايا دوي غواړي په خپل ولس حکومت وکري، نو که حکومت کوي دروسي وسلو په زور حکومتونه نه کيږي اوکه چيري کيداي شواي نودمسعود اسلافوبه کري واي ، حکومت بايد دخلکوپه زړونو وشي، اودزړونو لاسته راوړل قرباني اوتنږل غواړي . اوکه دوي دزور دحکومت ارمان لري نوبيا دي خپل سرنوشت ته منتظراوسي .

(وسيعلم الذين اي منقلب ينقلبون)

دافغانستان دبحران داوږديدلو عوامل

دغلجي ليکنه

تقريباً لس کاله کيږي چي په افغانستان کي يو داسي ستر او پراخه مصيبت بار بحران روان دی چي دخپل دوام اوتخريبي کيفيت او انساني ضايعاتو په لحاظ په شلمې پيړی کښې په سيمې کی بالکل ساری نه لری.

ددغه بحران تخريبي کيفيت اساساً دهيواد ټوله برخه احتواء کړی ، په دی ډول چی دهيواد له شرق نه تر غربه او له شمال نه تر جنوبه پوری ، ابکی يو کلی هم نشته چی دغه بحرا نه وی ځپلی هر کلي ته دروسی تجاوز گر پوځ دجنگی الوتکو له بمونو ،دلری واټن ويشتونکو قوی ويجاړونکو توپونو خرواری گوليو او دنورو تخريبي او مهلکو وسلو له انسان وژونکو مرميو نه خپله برخه رسيدلی ده .

دانساني ضايعاتو په لحاظ دافغانستان د روان بحران ابعاد دومره پراخه دی چی دافغان ولس يوه کورنی هم ور نه بهرنه ده پاتی . هری کورنی يا کوم خپل غړی له لاسه ورکړی او يا يې کوم نژدی خپلوان ددغه بحران په جريان کی تباه شوی دی . ډير خلك داسی فکرکوی چی له روسانو سره دجهاد په دوران کښی يونيم مليون خلك شهيدان شوی دی

خودشهيدانو رقم په حقيقت کی له يو نيم مليون نه ډير زيات لوړ دی. دکابل دکمونست رژيم ديوپخواني صدراعظم داظهاراتو په اساس ،په افغانستان کښی د روسی پوځ د جنرالانو داټکل له مخی صرف تر ۱۳٦٤ کال پوری يونيم مليون افغانان د روسانو دتجاوز قربانی شوی وو.

واضحاً په دی شميرکی هغه انسانان نه دی شامل چی له ۱۳٦٤ کال نه وروسته د روسانو په مقابل کی اويا دنجيب دړژيم په مقابل کی دجهاد په دوران کښی له منځه تللی او نه هغه کسان پکښی شامل دی چی دجهاد له پيل نه را په ديخوا دمجاهدينو له مقابل لوری يعنی کمونستانو نه وژل شوی دی. همداشان هغه کسان هم چا نه دی شميرلی چی دنجيب درژيم له سقوط نه وروسته يی دمجاهدينو په ذات البينی جگړوکښی وژنی شوی دی.

په افغانستان کښی د روانی فاجعی دانسانی ضايعاتو بله بڼه هغه بی شميره معيوبين دی چی هريوه دجنگ په جريان کی دخپل بدن يوغړی له لاسه ورکړی ، اويه نتيجه کښی د ځان اوټولنی له ښی وتلی دی

روان بحران دافغانی ټولنی اقتصادی بنياد هم بالکل زنگ کړی دی، او له ټول هيواد نه يی کنډواله جوړه کړی ده

هغه اقتصادی نهادونه چی دبحران له پيل نه دمخه په ډير شو يا څلويښتو کلونو کی ، دتاريخ د جبر په اساس رامنځ شوی وو په بشپړ ډول له منځه تللی دی، داسی چی په ټول هيواد کښی نه کار شته ، نه کار گرشته او نه کارگاه ، هرڅه په يو مخ تباه شوی دی.

حقيقت دادی چی دافغانستان دبحران ويرلړلی داستان په دغو انسانی ضايعاتو او اقتصادی تباهيو چی مونږ ورته اشاره وکړه پای ته نه رسيږی . دغه اوږد بحران لاپسی اوږديږی او ورسره ورسره يی داستان هم اوږداولا ويرلړلی کيږی .

بحران اوس دی مرحلی ته رسيدلی دی چی دافغان ولس هستی تهديدوی ، که لږ نور هم اوږديږی ښايی بيا تر هغه وخته ختم نشی ترڅو يی دافغان ولس هستی نه وی ختمه کړی او افغانستان يی د يو واحد هيواد په توگه دنړی له نقشی نه وی محو کړی.

۲ - دبحران د دوام عوامل :

دافغانستان د چارو مبصرين چی زمونږ دهيواد پيښی اوحوادث څاری دروان بحران دوام ديو لړ عواملو دموجوديت معلول بولی . دغه عوامل په دوه برخو يعنی کورنيو اوبهرنيو عواملو ويشل شوی دی. مونږ نوموړی عوامل په لاندی ډول خلاصه کوو :

۱ - داخلی عوامل : دبحران ددوام له ټولو ستر داخلی عامل دملی وحدت کمزوری ده . دروسانو په مقابل کښی دجهاد په وخت کښی په ظاهر کښی داسی بريښيده چی گويا دافغانستان ټول وگړی دخارجی متجاوز لښکر په مقابل کښی يو لاس دی او په بشپړ يووالی او اتحاد دخپل هيواد دآزادی لپاره جگړه کوی . خو حقيقت بل شان و .

په دی معنی چی دکمونستانو په مقابل کښی دجهاد له پيل سره سم له يوی خوا په هيواد کښی دننه دکمونست رژيم له خوا دملی وحدت دتضعيف لپاره هلی ځلی پيل شوی . ولس يی دژبی ، نژاد ، مذهب او مناطقو په اساس سره ويشه . هره ډله يی دکمونستی بيدريغه تبليغاتو له لاری داسی تلقين کړه چی گويا له نورو ډلو نه اصولاً بيله ده اوځانته تاريخی او فرهنگی افتخارات لری.

کمونستانو دغه بيلتون ته دومره لمن ووهله چی ډير خلك د ژبنيو ، نژادی اومذهبی تعصباتو او تبعيضاتو په سبب يوبل سره جگړی ته تيارشول او حتی سره وجنگيدل.

له بلی خوا له هيواد نه بهر دمجاهدينو اومهاجرينو په منځ کښی هم دخود غرضه ، خودخواه او دين اوملت ته دخاينو عناصرو له خوا دمذهبی اوژبنيو تعصباتو تخم وکرل شو. ځينی کسانو د يوی خاصی ژبی دخاوندانو د فوقيت افسانه دخپل عمل سرمشق کړه. ، اودا فاشيستی آواز يی پورته کړ چی گويا دافغانستان د معاصر تاريخ په اوږدو کښی ددغی ډلی حقوق تر پښو لاندی شوی دی دغو کسانو په خپلو ناروا تبليغاتو يوشميرمعصوم انسانان چی سپيڅلی احساسات يی درلودل يی لاری کړل او يی حسه فاشيستان يی ور نه جوړ کړل.

همدا رنگه يو شمير نور وکسانو دمذهبی اونژادی تمايز داحساس په بنا عليحده لاره غوره کړه او زمونږ يوشميروطنوال يی دقد هی اونژادی ستم په نامه طغيانی او بغاوت ته چمتو کړل.

په عين حال کښی دولس اکثريت چی په افغانستان کی دروان بحران دله منځه وړلو لپاره بايد اصولاً متحد او يو موټی شوی وای په کوچنيو ډلگيو وويشل شوه او دځينو دغو ډلگيو رهبری داسی خلقو ته په لاس ورغله چی ذهنی اوفکری انکشاف په لحاظ د اوسنی متمدنی نړی له جرياناتو نه په خواشينوونکی توگه وړيرووسته دی. ددوی جهان ددوی دنظرپه اندازه تنگ دی. دغه خلقی دملت ، دملی گټو ، ملی مسؤليتونو ، او دملی افتخاراتو په نامه څه نه پيژنی ،دوی فقط خپل ځان پيژنی او دحباب په شان خپل تنگ ماحول . ټول اقدامات يی دخپلو ذاتی گټو دتامين په مقصد شوی اودخپلو کرو وړو لپاره يی له ځانی گټو نه پرته بله انگيزه موجوده نه ده . دغه منحطی خلقی هغه مسؤليت هم نه ادا کوی چی زمونږ مقدس دين لارښوونکو مقاماتو ته د ټولنی په وړاندی ورپه غاړه کړی دی. په دی اساس ددوی دملی اومذهبی معيارونو له مخی په ملی مسايلو باندی دقضاوت حق اوصلاحيت نه لری . اما له بده مرغه دغه خلقی دهيواد داسلامی انقلاب په بهير کښی په ملی جرياناتو کښی دخيلی شوی او له غير معياری لارو نه يی په ملی مسايلو کښی ځانته دقضاوت حق حاصل کړ . ددوی د انقلاب په اوږدو کښی . دخيلی رهبری رول په خوراناقص ډول اداکړ، او ددوی دناقصی رهبری له امله دولس داکثريت ديووالی په پاخه بنسټ کښی درزونه رامنځ ته شول.

دغه درزونه پراخه شول اوبالاخره يی زمونږ ، دولس داتحاد اويووالی ماڼی چی په دغه بنسټ ولاړه وه او مونږ ته روغه رمته سپارل شوی ده وتړوله .

دريم مخ

رهبران محترم جهادی !

ازامام حسن بن علی رض "بیاموزید"

"عبدالواحد نهضت فراهی"

تقريباً سه سال پيش مضموني نوشتم تحت عنوان «شکايت مردم افغانستان از چهارآشنا» اين مضمون دريکي ازمجله هاي جهادي درپشاوربدون تصرف نشرشد .

من درين مقاله البته درلفافه الفاظ وکلمات اين چهارآشنارابدون اينکه نام گرفته باشم معرفي نمودم آنهادرطول جهاد لباس اخوانيت به تن کرده بودند وخويشتن را علمبردارجنبش هاي اسلامي درمنطقه ودرافغانستان معرفي ميکردند وقتي اين مقاله منتشرگرديد، شهرکابل هنوزنه سوخته بود ونه به ويرانه تبديل شده بود، اين مقاله بارملامتي بد نامي جهادرا بدوش آن برادران افگند. عده يي مرابهادملامتي ميگرفتند که چرا استثني درمقاله قايل نشده ام من دلايل زيادي براي صدق گفتارم ارائه ميدادم، اما جانب مقابل بازهم برگفته هاي شان اصرارووزيده ومکرراً مي گفت : چرا استثني قايل نشدي ؟

من ندانستم اين اشخاص دوست جهادبودند ويادشمن جهاد، بالاخره چاره يي نداشتم جزاينکه بگويم من قطعاً ازين چهارآشنا شکايت نکرده ام، شکايت راجهاد کرده است ،صرف من ازشکايت مردم افغانستان ازين چهارآشنا حکايت ونقل قول کرده ام . دوستي گفت اين مقاله ها راکسي نميخواند وهمان داستان بيادم آمد که نامه نگاري ازموشي دايان وزيردفاع اسرائيل پرسيد : شمادر ٥ جون ١٩٦٧م براعراب يورش برديد، اماده سال پيش زين تاريخ پلان نظامي خودرا افشاکرديد! موشي دايان بيك لفظ مختصر پاسخ داد : عربها نميخوانند،راستي وواقعيت آن بودکه رهبران جهادي نميخوانند، نه اين مقاله راونه مقاله هاي افغانهاي دلسوزديگررا . اگر بخوانند حتمي مقاله هاچون به اساس دلسوزي به جهاد نوشته شده است تاثيرخودرا بجاميگذارد . اين چهارآشنا نخواندند ، بلکه براي دستيابي به قدرت بجان هم افتيدند ونه تنها کابل را ويران کردند، بلکه ويراني تمام کشورادامه دارد وهمان سخن نکسن رئيس جمهورسابق امريکارابيادمي دهدکه ميگويد : اي مردم امريکا ازبنيادگرايان هراسي نه داشته باشيد آنهابخاطر رسيدن بقدرت همديگر راميخورند . کابل وسراسرافغانستان ماتم زده گرديد گوش شنوايي وجودنداردو وچشم بينائي سراغ نداريم . اما خداوند منتقم حقيقي است وانتقام مظلومان راميگيرد زيرا دولت کافر بعدالت ازدولت مسلمان ظالم عمربيشتر دارد ؟ الملك يبقي مع الکفر ولايبقي مع الظلم ».

روزي رسول اکرم (ص) درغزوه زني راکشته ديد فرمودند چرااين زن را که باشمائي جنگيد کشتيد - زنان، کودکان ،پيرمردان، مريضان ، فراريان، زخميان وعابدان راگرچه کافراند مکشيد . اين دستور به اين خاطربودکه دين اسلام « آئين خودرا بزورنيزه تحميل نميکند : افانت تکره الناس حتي يکونومؤمنين؟ (قرآنکريم) آياتودرصددي مردم رابه زورنيزه مسلمان بگرداني اين کارتو نيست پس اسلام ميخواهد رفع ظلم وستم کند ازهمين جهت خداوند دربرابر اين چهاراشنا چندجبهه ديگررا کشود . جبهه طالبان ، جبهه ظاهرشاه ، اين جبهه هم بعدازخواب پانزده ساله درروم بيدارميشود ومي بيندکه اين چهارآشناميان خوددرکشمکش اند بايد ازفرصت استفاده کرده اگر چانس براي دستيابي بقدرت مفت ورايگان پيداکند وازبي اتفاقي رهبران قدرتمند جهادي استفاده نمايد .

روزي روي تصادف کتاب حياة الحيوان الکبري تاليف شيخ دميري مصري راکه تقريب باعصروزمان ابوحامد محمدغزالي زندگيش برابراست، داستان امام حسن بن علي رامطالعه کردم ودرروح وروانم بسيار اثر گذاشت درداستان اوباحضرت معاويه آمده است که مخالفت آندوبه سرحدي کشيد نزديك بود بجان هم ديگر بيافتند وجوي هايي ازخون جاري شود ولي چون امام حسن مرد باگذشت بود ونخواست بخاطر اختلاف اوبامعاويه خون مسلمانان بريزد بنابران ازخلافت دست کشيد وقدرت رابه حضرت معاويه واگذارگرديد به علت همين واگذاري همان سال را، عام الجماعة ميگويند زيرا مسلمانان پس ازدست کشيدن حسن بن علي ازخلافت بدوريك خليفه جمع شدند اما حسن بن علي را حاميان وطرفدارانش مورد ملامت قراردادند که چرا خلافت رابراي معاويه واگذارشدي مابطرف داري تودربرابرمعاويه مي جنگيديم وتراتنهانميگذاشتيم چنانچه امروز مشاهده مينمائيم که يك تعداد اشخاص فرصت طلب واستفاده جويدوروبراين ها جمع شده آنهارا به اتفاق واتحاد نميگذارند وخاصتاً به آقاي رباني گوشزد نميکنند : ژړانده که دپلار ده هم په وارده .

آسياب گرچه ازپدرانسان باشد بايد نوبت را مراعات کند .

توجه فرمايد امام حسن بن علي(رض) پسر فاطمة الزهرا چگونه بطرفداران خودپاسخ ميدهد : من سه چيز خوب راکه موجب رضاي خداوند ميباشد برسه چيزيکه خشم الهي را بيارمي آورد ترجيح دادم :

۱- اتفاق،اتحاد ويکرنگي مسلمانان را بربي اتفاقي وبي اعتمادي دربرابرهمديگر .

۲- نريختن خون مسلمان را برريختن آن ترجيح دادم زيرا اگر اينطورنميکردم خونها جاري ميگشت وخشم الهي همه جاراقراميگرفت .

۳ - بي ننگي وعاروطعنه دوست ودشمن راپذيرفتم اماآتش دوزخ را قبول نکردم ،زيرا امام حسن نيك ميدانست که جنگ هاي قدرت طلبي قاتل ومقتول هردورا جانب دوزخ ميکشاند- قاتل را بخاطريکه قتل کرده است ومقتول را به سببي که ميخواست طرف خودرا به قتل برساند اماخودش کشته شد . امام حسن بااين درايت توانست آتش فتنه راخاموش بگرداند ونقشه فتنه گران رانقش برآب نمايد

خداوند ناظراعمال امام حسن بود واورا پاداش نصيب ميفرمايد ونامش را زنده وجاودان نگهميدارد . درحديث شريف آمده که رسول اکرم فرموده اند : يواطئ اسمه اسمي، نام مهدي آخرالزمان بانام من موافق است ومحمد نام دارد علماء باين عقيده اند مهدي آخرالزمان ازصلب امام حسن ظهورميکند ودنيا را ازعدل پرمينمايد اين حديث ازچند طريق روايت شده است ازجمله کتب سحاح سته واين مهدي ازنسل اوپيداميشود ومحمدبن حسن نام دارد وهروقت خداوند بخواهد ازنسل اوبا به عرصه وجود ميگذارد .

آيا سرگذشت امام حسن بن علي براي رهبران ماسرمشق نيست وچرا ازآن پندنميگيرند وآياميدانندکه درکوچه وبازارچه ميگذرد آيا خبردارند که ظلم ، تمام گسختگي ، چوروچپاول ،فحشا وشراب نوشي ؛ به اوج خود رسيده چهره کابل رامسخ کرده است تاجائيکه شخصي ميگفت :

هغه وخت چي رشوت وزبي مقررولم اوس چي چوردي ځوك مي نه مقرروي .

يعني دروقت هاي بي ديني که رشوت رواج داشت مرامقررکردند اماکنون که جاي رشوت راچوروچپاول گرفته مراکسي مقررنميکند !!

آيااين رهبران ازگرفت خداوردنيا وآخرت ومحاکمه ملت دردنيا واقف نيستند ونميدانندکه برسراين ملت مظلوم که دست بدعااند واين آيت رابکمال عجزونياز ميخوانند : «ربنا اخرجنامن هذه القرية الظالم اهلها» خدايا مارا ازين قريه که متوليان آن ظالم وستمگراند نجات بخش. مردم افغانستا امروزبه اين پيمانه ذائقه ظلم راچشيده اند که همه آرزودارند آنهارا خداوند بخيروعافيت اززمامداران مستبد وستمگر افغانستان نجات بخشيده اجازه خروج ازکشورشانرا بدهند وآنانيکه خارج شده اند درحفظ وامان خود داشته باشد .

يارب کجاست محرم رازي که يك زمان
دل شرح آن دهد که چه گفت وچهاشنيد
حافظ ، وظيفه تودعاگفتنست وبس
دربند آن مباش که شنيدياشنيد

دکابل اداری مسئولين د پرديو په رحم اوکرم، جلبولوکی خپله بقا گوری !

شمس الرحمن

زموږدهيواد اوسني ناآرامه اونامطمئنه وضعه دکابل اداري د مسئولينو دهغو انحصارطلبيواوخپلسريو په نتيجه کي راولاړه شوي چي دپرديو دمنفي اهدافوپه پاللواودهغوي په رحم اوکرم جلبولوکي خپله بقا گوري .

دکابل اداري دي دري نيم کلونوتاندربو، زورگويي، ناوړه تبليغاتواوبه ويلوعمل نه کولو سره خوزمون حالت تردي حده راورسيده چي خداي مه کړه دافغانانو دسرڅخه دجهادي افتخاراتوشمله راکوزه اويوځل بيا لاس ترلي ددښمنانوپه اسارت کي وغورځيږو .

دخبري رښتيو له مخي په کابل کي دماين پاکولو دموسسي له خوايوه غونډه جوړه شوي وه اوپه دي غونډه کي دکابل اداري نه وفادارغړي انجنير احمدشاه احمدزي بلل شوي او دافغانانوله خوايي دمينونو په ضدمبارزه اعلان کړي ده اوپدي برخه کي يې ددولت جدي همکاري هم ښودلي. همدارنگه احمدزي پدي غونډه کي دولت ! اومخالفين متهم کړي چي دوي يوديل په مقابل کي مينونه خښوي اوپه ضمن کي يي دبين المللي ټولنو څخه غوښتي چي نوربايد دمينونودتوليد - استعمال اونوروځايونوته دصادرولو څخه جلوگيري وکړي.

دبادوني وړده چي ظاهراً داحمدشاه احمدزي دغه اظهارات پرځاي اومعقوله بڼه لري. خواصلي خبره داده چي ددغواظهاراتوعملي کولو ته په حقيقي بڼه څوك ورکري ؟ پداسي حال کي چي داخبري ټولي ترې اوپه ځانگړي توگه زموږ دهيواد والو لپاره دخنداوړدي چي ديوداسي چاله خولي راوځي چي ددغومهلکو اوتباه کونکو وسائلو دتهيه کولو، صادرولو اواستعمالولو وسيله همدغسي ټگمار، انحصارطلب کسان اودکابل اداري مسئولين دي. تاسي وگوري ئن په ملت باندي څه حال دي ؟ دهيواد په گوټ گوټ کي دکابل اداري له خوا خرواريزبمونه ، توپونه ، هاوانونه اوراکټونه چي هريو دبشراودهغه دماحول له پاره تباه کونکي وسايل دي، ويشتل کيږي ، آبادغي حالت ته دخاتې ورکولو لپاره ولي چمتووالي نه ښاياست چي دمينونودپاکولو دروغجني ونډوري غږوي

دامظلوم هيوادوال خوبه اوسنيو شرايطوکي د روسي شيندل شويو مينونوڅخه دومره په ويره کي ندي لکه دکابل اداري دوحشيانه بمونو، توپونواوراکټونوڅخه چي ډيري ژوند تيروي. داڅکه چي دروسي پرتودڅه ناڅه راټولولو لپاره اوس په هرځاي کي دماين پاکولو ترپوالوخيريه موسسوفعاليت شروع کري اوددي جنگ ځپلي ولس دامن له پاره هلي ځلي کوي اوپايه هيوادوال په شکمنوسيمو کي ترهغي پوري نامشه ولاړه نه کوي ترڅوبي اطمينان حاصل شي. ولي دکابل اداري دپرديو په خدمت کي لگيامسئولين پخپله خوله په ملت باندي دخرواريزو بمونو داورولو امرکوي اوپخپل لاس بمونه خښوي . نو ښاغلي احمدزي ! اوس داراته ځرگنده کړه چي دمينونوڅخه خوبه دامظلوم ولس په ليسکري عقل اوتدبيرسره ديچ کيدو څه تدبيرونيسي ا. له ناڅه امکانات يي هم شته ولي ستاسي دبمونو، توپونو او ږندوراکټونو ويشتلو ته به چي وخت يي هم معلوم نه وي پرناڅاپه څه تدبيرجوړکړي ترڅوخطر څخه بچ شي، ئراوس تاسي روايات چي دکريدلير هيوادوالو لپاره مينونه ډيرخطرلري اوکه ستاسي بمونه اوراکټونه ! داخبره به ومنوچي مينونه زموږهيوادوال کروي اوداکاريايد وشي خوخطربې ان شاء الله ورځ په ورځ دنړيوالوخيريه موسسو په مرسته به کمښودي ولي دکابل اداري دجگړه مارو دوحشيانه بمباريو له لاسه هره ورځ په هيواد کي دغم اوويرنغرغوږيدلي دي . نبه مويه يادوي چي دکابل اداري بي رحمواوظالمانواکمنانوپه دين مينو هيوادوالو باندي دالله تعالي له لوري دخوشحالي کولو ورځي هم په پاکوځامو اغوستلو اوځانگړيومراسمو اجراکولو سره ندي لوبدلي. هغه دخوشحالي ورځ يي په غم درلرلي اودخوشحالي پرځاي يي دغم بهريه کوروتوکي غوريدلي دي چي ښکاره ثمونه يي دميدانښار په مجاهداومومن ولس باندي داخترونو په ورځ دکابل اداري له خوا وحشيانه بماري اوتوپونه ويشتل دي .

مونږ ته پوهيږوچي احمدزي داخبري دکوم معقوليت له مخي کوي چي مينونه بايد ختم نه شي چي هيوادوال وژني ، خودکابل اداري دجنگي الوتکوڅخه دي پرمظلوم ولس باندي بمونه اوري دملت دوژني لپاره دي په جنگي وسايلو اومهماتو باراوتکي افغانستان ته راشي دا څکه چي دزور اوظلم له لاري دجوړشوي حکومت لځه ملاترنه کوي ! که راقعاً ستاسي سره دملت غم وای نوخپله ځلورمياشتني دوره به مودپرديوپه اشاره، نظامي اواقتصادي مرستو اوپه زوردملت له غوښي پرته تردي ابخوکلونوپوري نه رارسوله ، دهيواددتباهي اوبربادي باعث به نه گرځيدي . ملت خو همداستاخبره اوس هم درسره منی خوچي تاسي واقعاً په خپلوويلوعمل وکري، جنگرنه بس کري، بياري ودروي، دملت رايونه اهميت ورکري

دريم مخ

دجهاد د اتلانویاد

دجنرال عبدالولی احمدزی دشهادت لومړی کلیزه دی مبارکه وی

جنرال عبدالولي احمدزي دګل محمد زوي چي په ۱۳٤٦ کال کي دلوګر ولایت دمحمدآغي ولسوالي ددیوالك په سیمه کي زیږیدلي خپل لومړني زده کړي یې داستاد بیتاب په ابتدایه ښونځي کي پیل کړي اووروسته دسیدنورمحمد شاه مینې په لیسه کي یې دوام ورکړ، دلیسې په دوران کي یې دحزب اسلامي افغانستان سره ارتباط ټینګ شو، چي په ۱۳٦۰ کال کي دجهادي وظایفو داجرا په لړکي دکمونستي رژیم له خوا ونیول شواوځه دپاسه دوه کاله یې په زندان کي تیرکړل .

دپلچرخي له زندان څخه ترخلاصیدو وروسته یې پاکستان ته هجرت وکړ اودحزب اسلامي په مختلفو جبهاتوکي یې خپل وسله وال جهاد ته ادامه ورکړه، پدې ترڅ کي نوموړي دتورخم اوشمرخیلو په فتحو، دننګرهار دهوایي ډګر په فتحه اوداسي نورو فتوحاتوکي فعاله ونډه درلوده . دکمونست رژیم ترړنګیدو وروسته یې له ائتلافي اداري سره خپلې وسله والي مبارزې ته دوام ورکړ اوپدې ترڅ کي دحزب اسلامي افغانستان دسارضربتي غند دکنډك دقوماندان په حیث وټاکل شو.

کله چي تیرکال دائتلافي اداري

ځواکونو دبالاحصار اومرنجان غونډي په ساحه کي دخپلواخیستل شویو افرادو په مرسته پرمختګ وکړ،نوجنرال عبدالولي احمدزي ددي سیمویه دفاع کي مهم رول درلود. اودمرنجان غونډي له څنډو څخه یې دائتلافي ځواکونودپه شاکولو په عملیاتو کي فعاله برخه واخیسته، چي په همدي جریان کي دجګړي په لومړي لیکه کي د۱۳۷۳ کال داسد په (۲۱) مه نېټه دائتلافي ځواکونو ددرنې وسلې په دزوله خپلوېنځوتنو ملګرو سره په شهادت ورسید . (روح یې دي ښادوي)

دکابل اداری مسئولین د ...

هرڅوك یې چي خوښ ؤ خپل زعیم اوامیر به ئې وټاکي نو مسئله پخپله حل ده . ولـــي دکابل اداري واك خوښو مسئولینوداثابته کړي چي هغوي هیڅکله هم په ویلو عمل ندي کړي اونه یې وعدي سرته رسولي ـي داځکه چي هغوي دبردیو په مرسته او فرمان سره متکي دي که هغوي ورځني خپل کمك دبوي لحظې لپاره متوقف کړي، باوروکړي چي دکابل اداري داشکل اوصورت به بیانه ګوري. تجروبوثابته کړه چي زموږ پیژندل شوي دښمنان دکابل اداري مسئولین ددي لپاره نه حمایه کوي چي دهغوي په حال یې زړه سوځي اویادمسلمانانو غم ورسره دي بلکي هغوي دغه تیروتي واکمنان ددي شه جوګه ګڼلي چي په افغانستان کي دهغوي ناوره هیلي له هرچانه ښې، پیاده کولای شي اوداملت بوځل بیا دپردیوپه ځالموېنجوکي وراچوي .

موږباورلروکه دکابل اداري واکمنان پخپل واك اواختیارکي واي، دافغانانو مسئله دومره نه کرکیجنه کیده ځکه چي دټولوجهادي ځواکونو ځوارلس کاله دیوه مقدس هدف لپاره په مشترك سنګرکي جهادته ادامه ورکړي اویه لومړي سرکي یې دالله (ج) په مرسته خپل هدف هم ترلاسه کړ، ددي امکان موجود وچي دهمدغه ګټلي هدف دتحقق موندلو لپاره یې بیا هم په ګډه کارکړي واي اویه اسلامي ټولنه کي افغانان دیوه الګواسلامي حکومت په شان رامنځ ته شوي واي .

خوله بده مرغه چي دکابل اداري خپلسري او ځـــان خوښي مسئولین دبرزدپردیو دچړیو وغدو ښکار شول حتي ترد ي پــوري چـــي وروستیو موثقو اطلاعاتو خوداخبره هم په ډاګه کړه چي په تیرجهاد کې ماتخیرو خولاوخته ددښمنانو منتر اثراچولي ؤ چي دهمدغي ورځي لپاره ورته موثر ثمام شي . نوځکه ویلاي

شوچي دکابل اداره دپردیو لاسته منتظره اودرحم اوکرم جلبولو په هیله یې دخپل عمراوږدیدل مرتبط ګڼلي دي. که څه هم چي دغه یې مسئولیته واکمنان دخلکو ددوکه کولو لپاره ناري سوري جګي کړي چي پردي لاسوهني دي بندي شي خودپردي ترشا بیا دافغانانو په داخلي چاروکي داسي لاس وهني رواني دي چي دارمانجتو هیوادوالو ځوارلس کلن ارمان یې وربانذي تکني کړي دي. چي ځرګنده نمونه یې په قندهارکي په نظامي وسائلو اومهماتوبارداالبانیا یې الوتکي راکوزیدل دي چي دطالبانو دهوایي ځواك له خواترسره شول. نولو هیوادوالو اوترپوالویه اوریدلي وي چي دکابل اداري له خوادغه خبره رد اودطالبانو له خوایې پروپاګندوباله حتي تردي پوري چي داهم وویل شول چي طالبان کله هوایي ځواك لري چي داکاروي کړي واي . خوکله چي دپیښي حقیقت دبهرنیوژورنالستانو له خوا په ډاګه شونوکابل اداري په شرمناکه اوخجالت آوره توګه پدې اعتراف وکړ چي ددغې طیاري جنګي وسایل اومهمات په کابل اداري پوري مربوط ؤ . لذه داچي نه پوهیږو داچلوټې پـــه ترکومه ادامه مومي اودا دجنګونو اوخودخواهیو پـــه اورکي سوځــــیدلي هیوادوال ولې سرونه نه راجګوي اودکابل اداري دچلوټیوپه مقابل کي په عمومي قیام لاس نه پوري کوي ! ترڅویه ددي وضعې په عادي حالت سره بدلیدو نه په انتظارؤ؟ نه خیر داخپال اوخوب نوربايد له سرونو څخه ویاسو ځکه دکابل اداري مسئولینونه له خپلونه پردي موثر اوګټوورښکاره شـــوي . اسلامي وروروولي اواخوت یې لـــه مغزوڅخه کډه کړي دشان اوشوکت له لاسه ورکول نشي زغملاي، راځي دیومعقول اېتکارفرصت له لاسه ورنکړو اولدي ټپل شوي مصیبت څخه دنجات لاروموو.

په نصرت مینه کی دمیلاد النبي (ص) په مناسبت

پیښور - نصرت مینه - زمري ۱۷مه :

